آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۸/۰۳

# ما مې د ورکې مینې یاد

## دننه زړه کې ایښی



څو نا آشنا کلو ته لاړمه د تا په تمه

څو نا آشنا سترګو ته، څو ځلې مې وکتلې

ما لټوله خپله ورکه مینه، ورکه مینه

خو ډېره لږه او وړه نښه مې ونه مونده

دا دی اوس ناست یمه، لارورکی یمه

مینه مې وسوه د غلیم لاس کې شوه

د خپلې مینې ګل مې زړه کې ایښی

له خپلو اوښکو یې خړوب ساتمه

خوشاله دې ته یمه

چې مې د ورکې مینې یاد دننه زړه کې ایښی

۲۰۱۹/۰۶/۰۹
هیدرسلیف
ډنمارک